خالق رشید
۲۰۱۷/۰۹/۲۸

# له پـــــــــــاني پـــــــتـــــــه ورو ســـــــته...



**پوهیږي ،**
**مادرپسې وژړل په چیغو چیغو ،**
**داسې چې کله مې هم ،**
**په زړه کې نه تیریدې ...**
**زما پر زړه باندې دغم نوکارو،**
**دیوې ستړې یوښې لارې وکړې ،**
**لارې لارې ،**
**چې زمانو ته به بیا دلته هلته،**
**دویر درنه کیسه دې ،**
**دزا بلی رستم سهراب لاوریان**
**دسرمنزل پرخونړیولارو تل ژړوي .**

**پوهیږي ،**
**ما درپسې وژړل په چیغو چیغو ،**
**ځکه چې زمادکلي هره ځانګه ، هره ونه ،هره پاڼه ،هره غوټۍ ،هراغزی**
**زما د زړه په وینو،**
**زما « پښتو» مور روزي .**
**اوپه پښتو یې روزي داسې داسې ...**
**چې زما خدای تر ماهغه ښه ویني ،**
**لکه چې زه دمورداوښکوننداره دلته دستې وینمه ...**
**او له هغې سره باید وژاړم ،**
**ځکه مې هغې سره ،**
**پر تاپسې په لیولیو وژړل وژړل ،**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

**په دي چي ته کله پښتوته مخ شوې ،**
**لکه لودي پاچا په پاني پت کي**
**میدان دی دجهل ته ، تورتم ته او شیطان دښنه ته پرنښوده .**

**پرتا مي زړه کي دآشنا میني اورنورهم تیزشو.**
**اوزه رښتیا په دې باورشومه ،**
**چي زمادکلي هره ونه ، هره پاڼه ، هراغزی ،**
**زما دزړه په وینو ،**
**زما پښتو مور روزي ،**
**اوپه پښتويي روزي ،**
**خواخ ،**
**زماپښتو زوی مړي مورته ښه وګوره ،**
**ارواح يي بیا په ویر شوه ،**
**بیا په ویرشوه ....**
**له پاني پته وروسته ...**

**دیوه تورتم په نغوته ...**
**دیوه پردي سیوري ،**
**په یوه پردي لاس باندې ،**
**بیا دتورتم تورزیری چا وکړلو،**
**مورمي لا سترګي غړولي نه وې ...**
**چي دتورتم په لاس کې کیوتله ،**
**اودهغي ترمخ يي ،**
**ستا په شمشاده هیله ، دنګه ځواني اور پوری کړ...**

**تورتم ابلیس د زماني و ، ګوره ،**
**بیا يي دلمر په مخ وریځ را وسته ،**
**او دتورتم پرغلام يي ،**
**ستا دژوندون کښتی ،**
**په مرګي سمندر لاهو لاهو کړه،**
**او زما په زړه کي يي اغزن زخم ،**
**هغه په وینو سور ،**
**یووار په څریکو راووست ،**
**اوتی کی ولړلي ،**
**لکه په وینوکي ډوب شوی ګلاب ،**
**لکه حسین غوندي ،**
**لکه دهغه یاد،**
**لکه دهغه لاره ،**
**چي تل به سره وې دمخسورو پر مخ ،**
**تر ابدیته پوری ...**
**ترجنتونو پورې ...**
**تردیدنوپورې ...**
**تربلهاریو پورې ...**
**ځکه چي زمادکلي هره څانګه ، هره ونه ،هره پاڼه ،هره غوټی ،هراغزی**
**زما د زړه پر وینو،**
**زما « پښتو» مور روزي .**
**اوپه پښتو يي روزی ...**
**لکه چي ته يي شان شوې ،**
**اودغا لیکه به له تاوروسته هم ،**
**لکه ترتا دمخه ،**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

**په سندربوُلو، بوُلو ،**
**دخپلواکی تر سرمنزله رسي ...**
**اوپه پښتو به رسي ...**
**زما د پښتو مور زویه،**

**او تا پښتو وکړه ،**
**چي مادرپسي وژړل ...**
**له پاني پـــــــته وروســــــــــــــته!!!**

خالق رشید

نوې ډيلي - د ۲۰۱۷ کال دسپتمبر ۲۸


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ